# ګوراو اوراو پېښور درې واړه يو دي

**مشتاق مجروح يوسفزے**

د پښتو ژبې د مشهور او مقبول شاعر عبدالرحمان بابا په مزار شوې حمله په پښتونخوا کښې د خپل نوعيت وړومبنۍ واقعه نۀ ده ځکه چې له دې نه اګاهو په شېخانو کلي کښې يو ځلور سوه کلنے زوړ مزار هم دغسې په يو بم چاؤدنه کښې الوځولے شوے وۀ او پکښې ديارلس تنه مړۀ شوي وو. دغه چاؤدنه يو مذهبي تنظيم کړې وه او د هغوي موقف دا وۀ چې دلته د منشياتو کاروبار او نور غېر شرعي کارونه کېدل. دغسې يوه چاؤدنه په جي ټي روډ څوکنو سره خوا کښې په يو زيارت کښې هم په دې وجه شوې وه، ولې څۀ خاص نقصان ئې نۀ وۀ کړے. په مومند ايجنسۍ کښې د ترنګزو د حاجي صاحب په مزار هم حمله شوې وه. د رحمان بابا په مزار د حملې نه پس د بهادر بابا په مزار هم يوه حمله شوې وه خو مزار ته ئې څۀ خاص زيان نۀ وۀ رسولے.

خو د رحمان بابا د مزار الوځولو دا واقعه په دې لحاظ ډېره زياته قابل مذمت ده چې رحمان بابا د انسانيت شاعر وۀ، هغۀ ټول عمر په خپله شاعرۍ کښې د خلقو د اصلاح کوشش کړے وۀ او د هغۀ د شاعرۍ دغه پېغام يواځې د پښتنو دپاره نۀ وُ بلکې هغۀ ټول انسانيت د امن، ورورولۍ او اخوت لارې ته راوستل غوښتل. د هغۀ ټول تعليمات آفاقي وو. هغۀ به وئيل چې:

زۀ عاشق يم سريکار مې دے له عشقه

نۀ خليل نۀ داؤدزے يم نۀ مومند



APP62-05
PESHAWAR: March 05 – People gathered at the site after bomb blast in mausoleum of renowned Pashto poet Rahman Baba at Hazarkhwani. APP photo by Riaz Anjum

د هغۀ شاعري ټوله د وعظ او نصيحت نه ډکه وه، ژبه ئې انتهائي ساده او اسانه وه او دغه وجه وه چې د پښتو د ډېرو لويو شاعرانو په موجودګۍ کښې هغۀ په پښتنو کښې د هر چا نه زيات مقبوليت حاصل کړے وۀ او تر اوسه لا دغه مقام هغۀ ته حاصل دے او دا يوه عجيبه خبره په دې ده چې هغه قوم چې د خپلې نااتفاقۍ دپاره مشهور دے هغوي ټول د رحمان بابا د مقام په لړ کښې يوه خلۀ دي. هر څوک ئې بابا ګڼي او داسې پښتون به کم کوز وي چې د رحمان بابا يو شعر دوه ورته ياد نۀ وي.

د امن، ورورولۍ او د نېکۍ د درس ورکونکي صوفي شاعر رحمان بابا په مزار کښې شپږ بمونه ښخ کړي شوي وو چې په هغې کښې پينځۀ چلېدلي وو او د دغې زوروري چاؤدنې په نتيجه کښې چې مزار ته کوم نقصان رسېدلے دے هغه ډېر زيات دے. د رحمان بابا په مزار کښې پينځۀ ستنې په داسې انداز کښې جوړې شوې وې چې بې د انجنئير نه د عام بنده په نظر کښې نۀ شوې راتلې. کومو عناصرو چې دا بارودي مواد ايښي

وو هغوي د دې دپاره هم د دغو ستنو انتخاب کړے وۀ او بيا ئې ټول بارود د تار په ذريعه يو کړي وو چې د لږ وخت کار نۀ وۀ او ګېنټې پرې لګېدې. د مزار انتظاميې ته د دړکو ملاوېدو باوجود دومره کوتاهي کول بنده حېرانوي.

کۀ په مالي لحاظ دغې نقصان ته وکتلے شي نو په دې مزار جوړولو درې کروړه روپۍ لګښت راغلے وۀ او د دې چاؤدنې په نتيجه کښې کۀ پوره عمارت راپرېوتے نۀ دے خو داسې حد ته رسېدلے دے چې اوس به ورانول او بيا د سره ابادول غواړي ځکه چې په کومو ستنو دغه عمارت اډانه وۀ هغه ببخي تباه کړې شوې دي. د سي اينډ ډبليو د انجنئيرانو وېنا ده چې څۀ وخت هم دا عمارت راپرېوتے شي ځکه نو خلق دې مزار ته نۀ شي پرېښودے خو د ازغن تار لګولو باوجود د رحمان بابا معتقدين اوس هم په ګڼ شمېر کښې هلته ورځي.

دې لويې سانحې ټول پښتانۀ دړدولي او پرېشانه کړي دي ځکه چې د رحمان بابا سره د پښتنو مينه د انتها درجې ته رسېدلې ده. بله دا چې دا زمونږ د ثقافت او تهذيب د بربادولو يو کوشش دے.

په اخبارونو کښې دا خبره راغلې ده چې د دې چاؤدنې نه اګاهو د مزار انتظاميې له دړکې ورکړې شوې وې او پکښې وئيلي شوي وو چې مزار ته د زنانو تګ راتګ غېر شرعي دے او دلته د تعويذونو کاروبار کولے شي کۀ دا سلسله بنده نۀ کړې شوه نو د دې به ډېرې خطرناکې نتيجې منځ ته راشي. خومره پورې چې د غېر شرعي کارونو او بدعتونو خبره ده نو د دې ښه طريقه دا ده چې د دې مخنيوے په خبرو اترو او حکمت وکړے شي لکه څنګه چې باچا خان په پښتنو کښې د غلطو رسمونو رواجونو ختمولو دپاره يو تحريک چلولے وۀ او ښۀ کامياب شوے وۀ او د هغې د کاميابۍ غټه وجه هم دا وه چې هغۀ تشدد نۀ کولو او خلق ئې د تشدد نه منع کول او د خبرو اترو او علم په ذريعه ئې خپل مشن سر ته رسولو. په ظلم زور او تشدد داسې خرابۍ لرې کول د دې سيمې او د دې سيمې د خلقو دپاره ډېر زيات خطرناک ثابتېدے شي.

په دې چاؤدنه د پښتونخوا ټول خلق کۀ تعلق ئې د هر مکتبۀ فکر سره وۀ ډېر زيات ودرډېدل او مختلفو تنظيمونو احتجاجي جلوسونه هم وويستل او په سختو لفظونو کښې ئې د دې ناوړې کار غندنه وکړه. مقامي اخبارونو خصوصي ايډيشنې وويستلې، د هغوي ټولو دا غم غصه په ځائے ده او هر ناوړه کار چې وشي نو بايد چې د هغې خلاف يو رد عمل راپېدا شي. په دې پېښه چې د عوامو کومې رايې د اخبار په ذريعه مونږ ته رارسېدلي دي هغه دا دي چې د رحمان بابا مزار د آرکائيوز يعني حکومت په واک کښې دے، پکار ده چې هغوي د مزار تحفظ يقيني کړي چې آئنده څوک داسې حرکت ونۀ کړي. بله خبره دا چې کوم خلق دغلته په مزار کښې د غلطو کارونو دپاره راجمع کېږي نو پکار دي چې انتظاميه د هغې نوټس واخلي.

د رحمان بابا د مزار تباه کولو په شا چې هر څوک وي او د هر ځائے وي، هغوي د رحمان بابا مقام او عزت ته هيڅ قسم نقصان نۀ شي رسولے ځکه چې هغه د پښتنو په زړونو کښې دے او د پښتنو د زړونو نه د هغۀ مينه ايستل ناممکن دي.

حکومت لـه پکـار دي چې دا راغـورځېدونکـے عمارت ونړوي او لـه نوي سره ئې جوړ کړي داسې نـهٔ وي چې څهٔ ځاني نقصان وشي ځکـه چې د رحمان بابا بې شمېره عقیدت مند اوس هم پـه یو لـوے شمېر کښې زیارت لـه راځي. د عمارت د جوړولو سره سره دا هم د حکومت ذمه واري جوړېږي چې د دې مزار د سیکیورټي دپاره دغلتـه یو پولیس چوکۍ جوړه کړي.